



Ketabton.com

This book was gifted in honour
Jahanzeb on the auspicious c
Festival as special contributio
12 December 1954. **Pukhto.N**
this book to its readers t

(c) ketabton.com: The Digital Library

L.No.15

15/4

# جهان زيبي

## مشاعره

۱۹۵۴ع

۱۲/دسمبر

باه ______ تمام

## سیف الملوک صدیقی سوات

فیضان سوات بقلم خود

تعداد ۵۰۰ عبدالحمد محمد سعید منگوره سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library

No: 15
16.6.57

۷۸۶

# جهان زیبی

# مشاعره

زیر سرپرستی سیف الملوک صاحب
صدیقی ریاست سوات

لیکونکے او مرتب کونکے فیضان سوات

Govt. Higher Secondary School
Acc No 15
Date:
KABAL Swat



غازی ملت حکمران سوات



# تمهید کتاب

چونکه سنکال د حضور اعلیحضرت همایونی
جناب محمد عبدالحق جهان زیب خان
صاحب حکمران ریاست سوات دام اقباله، د
جشن سالگرهٔ سنه ۱۹۵۷ء د ۱۲ د سمبر
پحقله حمونږ د خوګ وطن بناغلی محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدیقی یو خلور طرحے د چل فکر
د نتائجو نه منتخب کړے په هغوئ باندِ ادیبانو
او شاعرانو صاحبانو خپل خپل جذبات بنکاره کړه
لهذا مونږ دیو مجموعے په طور په خدمت د حلقهٔ احباب
او د ناظرینو د جشن کښ پیش کوو:-

(گر قبول افتد زہی عز و شرف)

فیضان عفی عنه
(سید و شریف)

# د نظمونو فهرست


| نمبر شمار | نوم د شاعر او د هغه نظم | صفحه | نمبر شمار | نوم د شاعر او د هغه نظم | صفحه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تمهيد كتاب | ۲ | ۱۱ | سلطان محمد صاحب | ۶۶ |
| ۲ | سيف الملوک صاحب صديقي | ۴ | ۱۲ | شير صاحب | ۷۸ |
| ۳ | فضل الرحمان فيضان | ۱۳ | ۱۳ | مهر النساء صاحبه بانو | ۸۰ |
| ۴ | حبيب الرحمان حبيب صاحب | ۲۳ | ۱۴ | پير محمد خان صاحب | ۸۳ |
| ۵ | امير حيدر صاحب | ۳۳ | ۱۵ | محمد نوشيروان صاحب | ۸۹ |
| ۶ | اياز صاحب. كراچي | ۴۴ | ۱۶ | شير افضل صاحب | ۹۶ |
| ۷ | عبد المالک صاحب فكري | ۴۷ | ۱۷ | خانے قصاب صاحب | ۱۰۰ |
| ۸ | شير محمد خان صاحب مينوشي | ۵۵ | ۱۸ | دلاور خان صاحب | ۱۰۶ |
| ۹ | احمد جان صاحب نشتر | ۵۸ | ۱۹ | د ناظر سوئيرمت. حسن كش | ۱۱۸ |
| ۱۰ | مولوي ضياء الحق صاحب | ۶۳ | ۲۰ | د عقيدت گلونه | ۱۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جناب سیف الملوک صاحب صدیقی ادیب سوات

## طرح

یو زه یوائے نه یم چه په دے یم خوشحاله

را زه تماشه اوکړه هر طرف ته ځما الله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

را زه تماشه اوکړه د اقبال ختلے نمر دے
مولیٰ په لوئ احسان راکړے دادر یم اختر دے
خوشحاله قام په دے چه جهانزیب د دوئ رهبر دے
بل ګوره ځما دوره چه نن ۱۲ بارهٔ د سمبر دے
هم ځو به ترقی دوی داجشن کال ترکاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

PUKHTO.NET



اوس جوړ د ترقئ ځونړ د پاره دی اسباب
ختلے په عروج د سوات تاریخ دے په هر باب
مالیار چه د ګلزار لړ کړه زاغ زغن غراب
د سیال سره چه سیال کړو مونږ والی عالیجناب
دا قول د ده همت دے ځان خبر کړه د احواله
یو زه نه یم چه په دے یم خوشحاله

صحت در له درکړی پاک الله غنی غفور دے
زاړه ځوانان، واړه هر یو په دے ساعت مسرور دے
فرمان چه څه کوے په صدق مونږه ته منظور دے
د قوم د ترقئ خدمت د نور علیٰ نور دے
شهزئ د دوړی شو له بهتر د زرین شاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

وطن د باغ ارم کړه څوک ناشکره د احسان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناشکره به هغه وي چه په مثل د شیطان دے

اصیل به خوشحالیږي په موږ فضل د سبحان دے

حصه د منافق دلته هم هلته کښې نیران دے

محروم به ژوند کښې نه کړے صدیقي د خپل وصاله

یوزه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

---

طرح

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

نن باره دسمبر دے پتنګان را غله په شمع

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

نن باره دسمبر دے خوشحالي ده په هر لور

هر خوا ته نظر اوکړه چراغان دي کور په کور

غنچې شنې د خندا نه بورے بلبلې کوي شور

دعا کوي سلطان ته چه يې ورک کړه ظلم زور



هر یو په خپل پوره دے نه ئې شته د بل نه طمع

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

خندا ده خوشحالي ده په چا نشته درد و غم

دعا کوي الله ته د خپل والي اعظم

ادیب شاعر چه وړاندې کړه قرطاس ته خپل قلم

اوصاف د جهانزیب لا پوره نه وو زر شه ختم

جمال ستا د کمال چه په نظر شوه د چا لمع

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

رښتیا ده چه عادل سلطان د پاک الله رحمت دے

دا هم د خدائے د لوري په موږ فضل عنایت دے

خندیږو، خوشحالیږو په هر ځای ځمونږ وقعت دے

غمخوار د هر یو کار پخپله غازي ملت دے

په تا چه څوک خفه وي ما رب دِ زر ترے نه کړي قمع

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه شکر نن او نه کړی دا بد بخته بې کردار دے
خلاف د اولی الامر په تحقیق کښې ګنهګار دے
تعمیر انصاف د سوات په مثل بل په کوم دیار دے
صحت دولت د علم کړه حاصل که ستا بکار دے
حق وایه صدیقی حق ته دِ تهیک و نسیه سمع
طوطیان په ګلستان کښې په خند اکیناسته جمع

## طرح

### هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

دا سے تجربه م په تحقیق کښې د احساسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

هر سړے دِ فکر ځان ته نن او د پرون او کړی
فرق په رشتیا دِ د وصال او د بیلتون او کړی
بل د زړه په سترګو دِ کتنه د ګردون او کړی
شکر د الله دِ په دے عهد د ماموَن او کړی



ستره چه ماضی ځمونږ د حال د انعکاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

نشته یو مثال چه به وِی دا دَورو دَوران د چا
نه به یو منصف، عادل، بیدار وِی حکمران د چا
نه به زیب زینت لکه ځمونږ وی په جهان د چا
دا سے رقیبان به په تعجب نه وِی حیران د چا
لویه تجربه دِ د لقمان او بلینا سه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د ملک او قوم چه په کوم شان سره تعمیر کړے
بل دِ د صحت تعلیم عجب غوندِ تدبیر کړے
بشکلے کور په کور چه انتظام دِ د تنویر کړے
هر ځائے کښې انصاف دِ د غریب او د امیر کړے
ځکه خَیرُ النَّاسِ وَمَنْ یَّنْفَعُ النَّاس ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیرے زمانې ته چه نن فکر څوک د سوات کوي
خدائ ګوکه انسان وي دے به فخر ستا په ذات کوي
یا وه قتل خون یا مطالعه د کائنات کوي
ځکه هر یو کس په دے خلوص صدق صفات کوي
هر ځائ اوریدلے صدیقي د حق شناسه ده
هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

طرح

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که د یقین شي

محفوظ خزانه وي چه پلاس کښې د آمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که د یقین شي
په صدق چه خدمت کوي مالیار د ګلستان
بلبل ورله راغواړي بل ترے لرے کړي زاغان
زاغ وزغن چه نه وي هر بلبل شي ثناخوان
هم دا د وطن حال وي چه عادل وي حکمران

PUKHTO.NET



ګویا په دغه قوم فضل د رب العلمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که د یقین شي
مشهور په تواریخو کښې دے عدل د جهانګیر
ترلے د انصاف د پاره ده به وه زنځیر
مظلوم به هلته لاړ شه چه به وه د ځان په ویر
وئیل به ئې فریادي ته راته اوده کړه تقریر
سلیم په دغه وصف یادیدلے په تحسین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که د یقین شي
یو څو خبرے وا اوره ته د غازي ملت
رښتینے نګهبان دے د خپل ملک او رعیت
بخپله د سپاهي بشان ولاړ وي په خدمت
فریاد د فریادي اوري هر ځائ په هر ساعت
اوصاف ئې نه ختمیږي که هر وصف په تضمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که د یقین شي

دَ دہ پہ برکت باندِ وطن ځمونږ سمبال دے

هر یو تہ پہ خندا دے هر یو کس تہ پہ نیک خیال دے

دَ دہ دے نظم نسق تہ هر یو سړے لیوال دے

تعمیر ئے صدیقی پہ دے زمان کښی بے مثال دے

مدد او معاون دِ دَ دہ رب پہ هر یو حین شی

دروغ نہ دی رشتیا دی پہ رشتیا کہ دِ یقین شی

---

# سیف الملوک صاحب

## صدیقی۔ سیدو شریف



# فضل الرحمن فیضان شاعر و خوشنویس

## ریاست سوات

---

## طرح

یو زہ یو ازے نہ یمہ پہ دے باندِ خوشحالہ

---

راځہ ګلہ راځہ چہ دِ خبر کړمہ دَ حالہ

دا نہ چہ بیا ځمانہ تہ ګلہ کوے صبالہ

نن بارہ د سمبر ستر کے وړهی ځمونږ پلور

یو ناوے دَ مکیز دا خلہ شوہ ځمونږ پہ کور

ګلونہ دَ عشرت دَ زړہ پہ باغ کښی شو سمسور

دَ سوات پہ ګلستان کښی بلبلان ګډ شو پہ شور

خوشحالہ خوشحالی دہ نن دَ هر سړی دَ خیالہ

یو زہ یو ازے نہ یمہ پہ دے باندِ خوشحالہ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جوش د محبت کښې د سیماب غوندې رقاص شوم
د عامو نه جدا شوم د خاص سره خاص شوم
میدان د تصور ته ور د ننه په اخلاص شوم
د فکر په دریاب کښې ورپکے لکه غواص شوم

خارج م کړه لعلونه چه تول ډک د ئ له کماله
د شاه د تاجپوشئ په تاج جړاو م کړه لالا له

PUKHTO.NET

نن جشن د حضور دے که د نوي اختر هلال
دا بدر د کمال دے که یو ستورے د اقبال
یا بنګلے پلوشه ده سر و هې پوره په کال
یا داچه په هجران پسے مدام راځي وصال

نن جونه د جشن تماشې کړي د دیواله
نوي د نکے غمزانګے سره بهر کړي د سوشاله
دا زه یوازے نه یم په دے باندے خوشحاله



د خیال په آئینه کښې درته ښایم یو تصویر
په هوش شه هسے نه چه شے د ځایه هوا ګیر
د سحر د جادو نه درته ډک کوم تقریر
اثر به هله اوشی د ضمیر نه په ضمیر

**فیضان** خیل تخیل کړو د شاه مینے ته لیواله
الفاظو ئے په زخم د زړه کینبوده دسماله

---

## طرح

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

یو وزے زه د سیل د پاره تلے وم صحراته
ګلشن د خوشحالۍ کښې ګرزیدم مزه هر خواته

یو زیړے عجیبه بهار په غوږ کښې اووے ماته
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سوات په ګلستان کښې نن چغيږي بلبلان
محفل ته دَ ادب واړه غونډيږي اديبان
په يادو دَ سلطان کښې مشغوليږي شاعران
دَ جشن په جوبن کښې بيا او بيا ګينا سته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا ګينا سته جمع

دَ باره ۱۲ دسمبر تاريخ به يادوي په هر حال
چه داسې سالګره پکښې کيږي هر کال
خوشحاله خوشحالي ده نن دَ هر سړي په خيال
دَ جشن په دې شپه کښې تر صبا ګينا سته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا ګينا سته جمع

دَ جشن فريدون او دَ نوروز نه دَ جمشيد
حمونږه جشن زيات دې دا حمونږه دې يو عيد
آزاده آزادي ده پکښې نشته دَ غم قيد



يو ښکلي محفل کښې شاه ګل ګينا سته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا ګينا سته جمع

يو سيل دې تماشه ده په هر ځاى په مکان
تاريخ تازه کول دي نن دَ سوات دَ حکمران
دا حکمران راغونډ شولوي واړه زاړه ځوانان
دَ دې خوشحالۍ نه په رشتيا ګينا سته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا ګينا سته جمع

دَ انجاس نه دَ څوارلسو پورې اوشو دا سې ياد
په باره ۱۲ دسمبر کښې حاصليږي حمونږ مراد
فيضانه حکمران دې حمونږ تل وي زنده باد
نن عام و خاص دَ باره دُعا ګينا سته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا ګينا سته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح

### هر سړی مومند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

ډیر ډیر فوائد د رسولی دی جهان وته
لاس د دلاسه د دے پسر هر یو انسان وته
نشته دے سلطانه د عیان نه څر بیان وته
هره نتیجه د د حدیث د خیر الناس ده
هر سړی مومند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

خاص د هر یو رنځ دارو یے د لاسه مسیحا یے ته
جوړ ته مړه وړ نه یے خو هر چا نه بخلایے ته
هم خو نو د غم د شپے د پاره یو صبا یے ته
هره فائده ستا خو نو د پاره بے قیاسه ده
هر سړی مومند لے لویه برخه ستا د لاسه ده



ستا په لوی همت سره د سوات وطن آباد شه ښه
علم د ازده کړه ورته جهل نه آزاد شه ښه
هم په جمیل وصف سره هر وطن کښی یاد شه ښه
دا د سوات ملوتنه ځکه اوس خلاصه د افلاسه ده
هر سړی مومند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د قوم د پاره هم پوره کړه ضرورت واړه
تا د ترقۍ په عروج جوړت کړه ریاست واړه
ځکه دے لګتا نه مول خوشحاله رعیت واړه
ستا مهربانی د نوے بلے نه کیاسه ده
هر سړی مومند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

جشن د دے باره دسمبر د مبارک وی ستا
ډیره خوشحالی د اے سلطانه یو په لک وی ستا
ستورے د اقبال د تل روښانه په فلک وی ستا

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دعاء څو نړه ستا په حق کښې بې وسواسه ده
هر سحر مونږ لویه برخه ستا د لاسه ده

ته دې ژوندی باد یې حکومت دې ستا مدام وي تل
سوړې د رحمت دې ستا په مونږ علی الدوام وي تل
هم دې د **فیضان** حقیر پتا دعا سلام وي تل

دا سنه دی شروع څو نړه د انیس سو انچاسه ده
هر سحر مونږ لویه برخه ستا د لاسه ده

---

## طرح

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دیقین شي

---

تور دې که سره شنه دي هم که زیړ دي او که سپین شي
دا که په یو رنګ شي نو بیا جوړ به تر آئین شي



راشه دوه رنګي پرېږده په یو رنګ سره رنګ شه
ته کښې عاشق نو د آشنا د در ملنګ شه
زر شه د باطل د پاره غشي د خدنګ شه
دوست به دې خوشحاله شي دشمن به دې غمګین شي
داسې کارنامې به دې بیا نو کړې تر علیین شي

ملګان د اتحاد په رسۍ او تړه محکم پته
زهر د تفریق د مېنځ نه واړه کړه مدغم ته
زړه دې په چاره د شاه د مینې کړه قلم ته
څوک چه داسې کار کړي په رښتیا سره نازبین شي
داخه دروغ نه دي په رښتیا که دیقین شي

راشه دروازه د یقین او وهه په زوره
خپل یقین دې خاص کړه بیا هله لمتوه نوره
ولې ته دیده او دانسته ګرځې شمکوره

Govt. Higher Secondary School Acc No Date KABAL Swat

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک چه د اخلاص په جامه پټ شي نو آمين شي

تېر نه وي بيا خلقوته دېر ځوک لکه کبين شي

ته په صداقت د جهان زيب د در غلام شه

ښکار لکه مارغه د محبت د ده په دام شه

ځو به ئې بدنام ته د وفا په نوم نيکنام شه

مخ په صدق ونيځه چه روښانه د جبين شي

هله به بيا رو نږدے ته د يار د مخ آئين شي

خيال کړمه مجبوره زه په دے معما کا نو

دا تښے قصے نه دي که داوري هوښيا را نو

دا يو معمه د مطلب د که ده يا را نو

وائي **فيضان** تاسو ته که پوهه پړ دوربين شي

کوزه با به بره، بره کوزه د خودبين شي

فيضان سوات عفي عنه سيدو شريف



## ښاغلي حبيب الرحمن صاحب حبيب اديب کالوج سوات

### طرح

**يو زه يوازے نه يم په دے باندے خوشحاله**

نن بارہ د دسمبر دے هر سړے کړي چي له خياله

يو زه يوازے نه يم په دے باندے خوشحاله

نن بيا هغه تاريخ دے هغه مياشت د دسمبر

ختلے چه پر تخت وه والي صاحب بهادر

هر چا ته هر سړے راځي خوشحاله په نظر

دا زيا ته خوشحالي د پر ده رسيږي د بل کاله

يو زه يوازے نه يم په دے باندے خوشحاله

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے جشنِ تاجپوشئ له دَ والی صاحب والی
یو زه یواځے نه یم چه پړے کومه خوشحالی
دَ سیال سره چه سیال نه دِی هغه کوی سیالی
معموره هم مسروره پرے ورځ وینم بد حاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله
دا ورځ دَ خوشحالی ده ټن دَ هر یو مسلمان
هر ځائے کښ خوشحالی ده په هیچا نشته خفګان
تاریخ دَ تاجپوشئ چه دے ځوند دَ حکمران
وه چه زبون حال هغه نه دے زبون حاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله
دا ورځ دَ خوشحالئ دَ اهلِ سوات دَ اقبال
دَ باره ۱۲ دسمبر ده مبارک دَ دے کال
ده دا سے خوشحالی لکه دَ عیده په هلال



دا باره دسمبر یکښ تاریخ وینم نیکفاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله
آمان دَ انقلاب نه ځوند دِ حکمران وی
دنیا کښ تر څو پورے چه دا زمکه دا آسمان وِی
هم دا سے دِ په قام بانډِ مشفق ځوند سلطان وِی
دُعا دَ حبیب داده اے خالقه لایزاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

---

## طرح

### طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

---

طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع
ن باره دسمبر دے شاه ګل کیناسته جمع
دا باره دسمبر یو لوی اختر دے دَ اولس

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو سړی ته ګورم چه کوی خندا هوس
د دیرے خوشحالۍ نه په هر ځائ کښ دے مجلس
حسد او کینه لاړه نن اعدا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

بے حده خوشحالي ده ریاست کښ کور په کور
چه ورځ د تاجپوشۍ ده د والی صاحب غمخور
په زیاته خوشحالۍ له کمه باخیده رنځور
آغوستے نوے جامے خلقو زیبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

تول خلق راغونډ د خوشحالۍ شو په میدان
هر یو کړی خوشحالي په تاجپوشۍ د حکمران
په هر کلي د سوات کښ په هر ځائ په هر مکان
محفل د خوشحالۍ کښ یار آشنا کیناسته جمع



امیر دے که فقیر دے کړے هر یو انتظام
عیشونه دی جلسے دی، دعا کانے کوی قام
څوک چه بے آرام وه هغه وینم په آرام
په خوان د دے سلطان ادنی اعلی کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

ښکاریګی هر طرف ته دروازے ښی مزه دارے
حیران شی په دے ورځ چه مسافر درومی پلارے
نوروائی مسافر خنګه اختر شه په تلوارے
حبیب وائی کاروان تر په سودا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

---

## طرح

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

حضوره ما ایستلي بادشاهي ستا سوک قیاسه ده

هر سړی موندلی لویه برخه ستا د لاسه ده

موندلې لویه برخه هر یو کس لتا سلطانه

احسان مالي جاني کوې د هره مسلمانه

بیا خاصکر په عاجزو یې بې حده مهربانه

هم ډیر د احسانونه هم جزا د سمه لاسه ده

هر سړی موندلی لویه برخه ستا د لاسه ده

په مثل د حاتم د حکمرانه سخاوت دې

لایق د ډیر تحسین د آفرین د حکومت دې

د عدل د انصاف د په کلي جهان شهرت دې

ستا فیصله هره د میزان او د قسطاسه ده

هر سړی موندلی لویه برخه ستا د لاسه ده

هره فیصله کړې په انصاف عدل پسند یې



هر دې قوم د انصاف په تمامي جهان سرګند یې

موصوف په دې اوصافو په چترال په ډیر درښند یې

تعریف دې دنیا ټوله کړي د لاندې کم لیاسره ده

هر سړی موندلی لویه برخه ستا د لاسه ده

حاکم دې وي حاکم چه ورپکښې عدل انصاف وي

صدق چه له بها و د رشوت نه څنې صاف وي

مجرم چه جرم اوکړي په اقرار باندې معاف وي

له دې نه چه خلاف شي بیا توبه دې دخناسه ده

هر سړی موندلی لویه برخه ستا د لاسه ده

خاوند دې خه نصیب کړه زیات له دې نه ښه اقبال

چه کوې مظلومان دې په انصاف عدل خوشحال

محصون دې له ګردش د انقلاب اوسه آ ل

دعاء د مظلومانو تیره سخته د الماسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن بارهٔ د سمبر دی تا جپوشی ده حکم انه
دا نیک فال تاریخ دې هر یو کس و بیم شا دانه
داورځ له اختره کمه نه ده مهربانه
هره خوشحالۍ د کال ده هر یو ته د پاسه ده
هر سړی مونده لو یه برخه ستا د لاسه ده

دا حبیب له صدقه خپل مالک ته یې د سوال کښی دی
تل د تضاعف د سالګرې دې کال په کال کښی دی
بل د نیکنامۍ غرض یې هر زمان په خیال کښی دی
د الار د نجات هر مسلمان له بې وسواسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

---

## طرح

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

PUKHTO.NET



سوات ته چه خوک راشی پوه رحمت د رب متین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

لا اوس چه یو ظالم او بل مظلوم شی عدالت ته
دی په خوشحالۍ مظلوم راضی مظلوم غمګین شی
زغلی عدالت ته مظلومان له هر طرف نه
سوال د دوی قبلیږی دی یو خفه ظالم بې دین شی
په سوالت کښی مساوات د معتبر او د غریب دی
حق رسی کیږی که خوک خان او یا مسکین شی
زیات له مورو پلاره مهربانه شاه په قام دی
بیا په کومه وجه رعیت به تر غمګین شی
نن په انتظام باندی خوشحاله رعیت دی
نه غواړی هیڅکله چه بدل دی دا آئین شی

رحمت په هغه چاوي چه مطيع د حکمران وي

د شاه نه چه خلاف شي هغه دور د شياطين شي

د غلو شو کمار و نشته مسافر ته خطر

نه فکر لري غم که په صحرا سر په بالين شي

حبيب والي نصيب دې د والي عمر د نوح شي

د قام ده دا دعا د فرشتو دې پرے آمين شي

---

## حبيب الرحمن حبيب

گالوچ - سوات



# ښاغلے امير حيدر صاحب بونيرے

## رياست سوات

---

### طرح

يو زه يوازے نه يمه په دے بانډې خوشحاله

---

يو زه يوازے نه يمه په دے بانډې خوشحاله

دا باره دسمبر دې خدائ محفوظ کړي د زوال له

يو زه يوازے نه يمه خوشحاله بټول جهان دے

د سوات په ښکلې زمکه جهان زيب چه حکمران دے

مرغۍ وائي سندرے چه دا څنګ امن امان دے

مولى دې په ښادئ لري دا کال تر بله کاله

يو زه يوازے نه يمه په دے بانډې خوشحاله

مولى دې په ښادئ سره لري د والي ذات

ذات د ده خوشحال وي خوشحال هر وي سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عدل په انصاف کښې شاه آغستی دی صفات
قدم نقش قدم ئې هر یو کې دې د کماله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

قدم نقش قدم ئې ځو به دې د اسلام
اسلام هغه اسلام وي چې ئې درست خیر ئې انجام
انجام د نیک خویونو په والی کښې دي تمام
د ملک او د ملت خیر نه ده ترې مځاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

د ملک او د ملت په محبت کښې وي غرقاب
د خوار و غریبانو په خدمت کښې وي غرقاب
قانون ئې شریعت دې شریعت کښې وي غرقاب
آوازې ئې د توحید دې او ریګ ئې د بلاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

PUKHTO.NET



آوازې ئې د توحید دې او ریډ لې برابر
خدای رسول ته درست وي هغه او کړي مقرر
یو وړوکې دې باغچې پلورې تله امیر حیدر
بلبل ته ګل ویلو چې به ته راځې صبا له
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

---

## طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

---

محفل کښې خوا په خوا آشنا کینا سته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع
طوطیان په ګلستان کښې د ګلو ننداره کړي
ګل خاندی خوشحالیګی ځوک د خپل جوش نغری کړي
ګل د ګلو اخلی پرې مځوکې دواړه سرې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاغان په تیختر لاره په بیدیا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښی چه صبا شی خوشحالی کړی
چه باد د صبا راشی پا نړے خاندی قوالی کړی
نعرے د زندہ باد کړی زندباد چه د والی کړی
خوشحاله تمام قوم په مرحبا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښی مصلحت کوی د عیش
هر یو په خپله ژبه اشارت کوی د عیش
دنیا کښی په دنیا خلق صفت کوی د عیش
ټول قوم مخامخ د رهنما کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع
محفل کښی خوا په خوا آشنا کوی خندل
محفل کښی چه خندا کوی هم دا کوی کښتل

PUKHTO.NET



...ه د والی به مساوی نه وی څوک بل
...لوس کښی د بنادی څوټے دا دا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع
...ل کښی خوا په خوا آشنا آشنا کوی مذکور
...ه د خوشحالۍ نه معلومیږی مخ ضرور
...اره دسمبر د سالګیرۍ کیږی دستور
میدان کښی مجلسیان په رضا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع
...ل کښی خوا به خوادی د یو بل نه تپوس نه
...حق کښی د والی غواړی دعا ټول اولس نه
...لوق کوی د خپل توانه خیرات نه مجلسونه
یاران د امیر خیل رالاس په دعا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح نمبر ۳

هر سړی موندلے لویه برښه ستا د لاسه د

---

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

دا خبره هم هر چا و ښکلے دخپل قیاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه په خدمت کښی ده

هر یوه صیقه د شرافت په صداقت کښی د

ما هم اوریدلے دا ویناد عوام الناسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

ما هم اوریدلی چه د قوم ځان خادم کنړے

ته خدمت د قوم کړے ، نه چه ځان حاکم کنړے

تلے دا فقره د فکر پوره د وسواسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده



دا فقره د فکر پوره ستا د وصف ده

نده باد نعره هم هر یو لوره ستا د وصف ده

عدل کړے انصاف کوے دا ستا د احساسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

عدل کړے انصاف کوے نه چه ته ظلمونه شته

نه په ترقئ شوه دا سے نور قومونه شته

ښکل په اخباراتو کښی لیک د حق تشناد سره ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

رست په اخباراتو کښی لیک جهان زیبا ئے ته

مکه مهربانه په عاجز و غوبا ئے ته

تیزه رسائی د عقل ستا چه د الماسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

تیزه رسائی د عقل ستا په سیاست کښی ده

قوم د اسلام له ښه فائده ستا حکومت کښی ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورک دِ چغل خور شي دَ چغل وینا نخاسته ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ورک دِ چغل خور شي دَ چغل وینا اثر نه کړي
بل طرف ته کوچ به هیڅ ۱ میر حمید ر نه کړي
دام عریضه به د سبر دَ التماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## طرح ۴

## دروغ نه دِي رشتیا دي به رشتیا که دِ یقین شي

---

دروغ نه دي رشتیا دي به رشتیا که دِ یقین شي
لال نشي پټید لے که به اوږ و زیر زمین شي

دروغ نه دي رشتیا دي به رشتیا یقین یکار دے
یقین دَ مسلمان دَ باره ښه ښکلے کردار دے



... به ناجائزه چه بدل کړي گنهگار دے
رشتیا به خنګه پټ شي یو سړے که نکته چین شي
دروغ نه دي رشتیا دي به رشتیا که دِ یقین شي

... رشتیا چه پټوي دا پټول گناه عظیم دے
... سوات والی ته خپل اُستاد دَ خو کړے تعلیم دے
... نه دے دَ انصاف منصف مزاج عقل سلیم دے
هم دا سے نور قوموں لره امام دِ جوړ آمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي به رشتیا که دِ یقین شي

هم دا سے نور قوموں لره دِ شي امام ښکاره
... غیرت به شجاعت کښي دَ آغستے نام ښکاره
... کښي گوته به گوته باندِ چه شي اسلام ښکاره
بیدار شي هغه قوم چه بادشاه ئي نیک حسین شي
دروغ نه دِي رشتیا دي به رشتیا که دِ یقین شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیدار شی هغه قوم چه نیک خو یې حکمران وی
خدمت چه دَ مخلوق کوی په ده رب مهربان وی
هغه زمکه او غونډی کانړی لوټې گلستان وی
پرچا باندِ نظر چه دَ خپل رب العلمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

پرچا باندِ نظر چه وی دَ رب هغه عادل وی
هغه ترمرتبې دَ خو اخلاقو هم حاصل وی
دَ سوات والی پښتانه خدای خبر چه څوک عاقل وی
په باره د سمبر کښې ځما چهاپ به مضامین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

په باره د سمبر کښې کور په کور باندِ ښادی دی
دشمن دِ یې ذلیل شی چه په زړه یې ناسودی وی
آزاد خو د غرزو ندې بل به څه دَ آزادی وی



په غیر دَ شریعت نه که قائم بل یو آئین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

[په] غیر دَ شریعت نه ریاست کښې دستور نشته
[ق]صور دے دَ نادانو دَ دا ناوه قصور نشته
[بینا] کوم دَ ځانه ماتر دے کښې ضرور نشته
شاعر امیر حیدر دِ مولی نه کړی چه غمگین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

---

## امیر حیدر بونیری

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښاغلي اياز صاحب د کراچۍ نه

طرح ۲۱

یو ځله یوازې نه مه په دې باندې خوشحاله

---

پرون "د پښتنو" "نن" په خندا راغلو صبا له
زیرې د ښادۍ ګوندې هدهد راوړو سبا له

غر د سلیمان د ننګه غرځي ولاړ صدا له
پېغله د آئیم بیا جوړه شوې ده ګڼا له

بخت او تخت او تاج د خلقو به ځنې زاریږي
که ناز د پښتونخوا باندې نازو نه دی نازیږي

تقدیر به ګډا سي او تدبیر ولاړ به پرکاله
فطرت په سرو منګولو کښې حنا راوړه حیا له



نختر په نوراني عینک کښې ضیا راوړه ضیا له
نشې له مستیو ډکې د صبا راوړې صهبا له

…یار او تدبیر دواړه له مرانه قربانیږي
ښادۍ له خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائیږي

فردوس د پښتنو غوږ نیولی پښتونخوا له
رضوان زیرې ورکړې هسې رنګې د دنیا له

ورونه د ښادۍ ډکوړې لیږي نن هر چا له
حیرت هم ارادو د مشیت کړې دې دوچا له

…لي پښتون آدم ته خلافت سپارلې کیږي
…واده د هیواد چه د ښادۍ په تال زنګیږي

خیبر چه چا خبر کړه د ډې هسې رنګ احوال له
"ډېوې یم په ډېوې یم" وجود بیا راغلو خلا له

کمال د پښتنو وزیږید ونګې له زوال له
کمال هسې کمال چه تکمیل مومي له کمال له

PUKHTO.NET

غازي چه تا ته ګوړم ننګيالي م را ياديږي
جهان زيبه! تا ته ګوړم ابدالي م را ياديږي

مبارک دې شه دا جشن اې په سيالو کښې بې سياله
يو زه يوازې نه يم په دې باندې خوشحاله
پښتو په ګډا شوه چه يې واک دراغلو تا له
ښادي به وې نه کړي چې بخيله شوه واکواله
وارړه پښتانه په هر وطن کښې خوشحاليږي
نو بت چه نن د سوات په سر دروکښې ستا غږيږي

---

اياز کراچي



# ښاغلي عبدالمالک صاحب فکري

## تندوډاک - سوات

---

طرح

يو زه يوازې نه يم په دې باندې خوشحاله

---

مرحبا فيض موندلې دې بيل بيل ستا د اقباله
مطمئن، خورسنده، ستا په دور باکماله
سوات د که بونير دې دواړه خلاص شو د جنجاله
سوال ستا د عروج کوي هر څوک د ذوالجلاله
يو زه يوازې نه يم په دې باندې خوشحاله
سوړ د رحمت يې قام له کوړے لارے صافے
ظلم دې وړک کړه فرشته چه د انصافے

هر قدم چه اخلے مکمل وِی، نه کړے لا
ورانډے هر سړی استا په اقبال شه دَ خپل سیاله
یو زه یوازے نه یمه په ډے باندِ خوشحاله

لوږه، که جوړه ده، که خټ دے که کمر دے
کلے دے که ښهر دے که سمه ده که غر دے
هر ځائ غوږیدلے ستا دَ عدل ښه ښادر
نشته منزری هغه بیزو وَ ترلیواله
یو زه یوازے نه یمه په ډے باندِ خوشحاله

ژړے وِی، که اُو ږے پکښِ هر څوک خی مزے کوِی
پره تر هر نشته خپلے خپلے مشغلے کوِی
امن او آمان دَ اے فکرَی نه څوک ملے کوِی
قام دَ سوات دَ علم په دولت شه مالامال
یو زه یوازے نه یمه په ډے باندِ خوشحاله



## طرح ۲

### طوطیان په ګلستان کښِ په خند اکینا سته جمع

---

طوطیان په ګلستان کښِ په خند اکینا سته جمع
هر رت چه دَ خزان ورپکښِ اُوکړه قلع قمع

ه نن دَ بهار په ښه موسم شه ګلستان
ق دَ حده زیات شه غوټو اُو سپړه دلو ځان
ګل شه په خندا چه پسرلی اُو کړو اعلان
بلبل هم نغمه زن شه دَ وصال دَ ګل په طمع
طوطیان په ګلستان کښِ په خند اکینا سته جمع

افغان دَ باغ لاله، مهربا نه شته خاوند
صیاد ورک شه ظالم نغمے غزیږی خوند په خوند
مستی کوِی خوشحاله دی پرند چرند په ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لوی دِی که واړه دِی هرڅا بیا مونده له نفع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

عجیبه تماشه ده سوات کښې نن صبا اختر د

داورځ د سعادت ده ښکلې دور بختور د

وطن ټول چراغان دے ځکه باره دسمبر د

رڼا د قمقمو ده هر ځائې بله ده هم شمع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

راضی دی د غازی نه په ښه شان سره قومو

په دورِ جهان زیب باندِ او باسی تل شکرو

فکری یوازے نه هر یو منصف وائي حالو

فیضیا به ئې په فیض سره هر څوک دی نشته منع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---



## طرح ۳

### هر سړی مونده لوئیه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړی مونده لوئیه برخه ستا د لاسه ده

داصلاً ځما نهٔ ، بلکه دا د عامُ الناسه ده

…ض مونده چانه دے؟ څه وه مرڅوک دی؟ وایه

… په ضمیر او مظلومان دی کوم ځائې؟ خا یه

… په کوټ او کوره حال احوال ، نهٔ چه د ور ایه

…وره د انصاف دِ تیره زیاته د الماسه ده

هر سړی مونده لوئیه برخه ستا د لاسه ده

…کر د اکبر دے سوات پتا باندِ روښانه شهٔ

… ښان او چت ئې دومره زر چه د هر چا نه شهٔ

… اقبال د چا دے چه محفوظ د هر خزانه شهٔ

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکمال د دے دے چه منکول پرے ستا الیاس ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

ن د قام د پاره دلته هر ځای اسکول نه دی
نو د ترقئ هم ستا دوړاندی اسکیمونه دی
هر خوا نه موجود ستا د تعمیر بنه مثالونه دی
دے دا حقیقت، هسے خبره نه د قیاس ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

لاس به نام ولاړ فکری دعاء ستا د اقبال کوی
مراد دی ستا حاصل شی په دارین کښی دغه سوال کوی
ته چه رهبری کوے تفصیل ئے د اجمال کوی
تا کو یا آغستے چرته خونړ د الیاس ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

---



## طرح ۱۲

## دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دی یقین شی

---

... دا یو باغ دے پکښی تل چه وی بهار
آزاد دور پکښی کوی بلبلان کوی چغار
... ده د جنت امن آمان پکښی بسیار
... ان ئے خبردار د زمانے دے په اسرار
جنت به وایم ستوانته که جنت په سر زمین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دی یقین شی

... ده د جنت زیب و زینت لوی بے شانه
... رت پکښی جوړ کړی مناظر دی لا بیانه
... ی ګل، غوټئ پاڼے هم ناچ کوی د ځانه
آواز د طائرانو اوریدے شی د هر خوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احوال او ګوره راشه چه حال د زړه تسکین شي

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

نظیر دے د جنت ښکلے د سوات زمکه نا مدار

طوطیان پکښې چغار کوي بے خوفه له آزار

دا دَور بختور دے، دِي هر څوک شکر ګزار

خزان دِ مُولي دُور لري د دے چمن ګلزار

په امن د آقا تو دِ د دے هر یو مکین شي

صد شکر د اکبر دے چه په امن کښې اوّل یو

د قحط کښې مکشه یو د هر قسم عوبل یو

اقبال د جهانزیب دے منظم او مدلل یو

د علم په زیور سره فکري! ښه مکمل یو

حافظ دِ د غازي څُونبر الله العٰلمین شي

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

(عبدالمالک فکري، تندوډاک سوات)



## فخر الشعراء جناب غلے شیر محمد خان صاحب مینوش ترلاندي (صوابي)

طرح ۲

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

---

هزار ځله دشمن که کړے بے باکه نکته چین شي

هلال چه د خودئ چرے کمال سره قرین شي

جمال د قاهرئ کړے هله ستورے د جبین شي

د وحدت په ګوته کښې د سلیمان هغه نګین شي

په تخت د حکومت باندِ فائز به ښه تمکین شي

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



یقین چه دِ محکم شهٔ نو قوت ترې نه جوړیږي
چه پاک دِ شه قوت نو حکومت ترینه جوړیږي
چه نیک دِ بصیرت شه، عدالت ترینه جوړیږي
که دروغ دِ وهٔ سیرت نو شجاعت ترینه جوړیږي
په ذات دَ جهان زیب کښې به داګل درته آئین شي
دروغ نه دِی رشتیا دی په رشتیا کړه دِ یقین شي

پلاس کښې دِ قلم دَ مقدر وجود کتاب دے
دَ ژوند په سمندر کښې دِ آسمان فقط حُباب دے
په سترګو دَ مؤمن کښې دَ ادراک جهان سَراب دے
دَ دهٔ او دَ حق مینځ کښې دیر نرے غوندې حجاب دے
اوچت شي دا حجاب چې چه روح ئې دَ شاهین شي
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا کړه دِ یقین شي

دَ سوات دَ والي کاروائے تعبیر دَ ژوندکې دے



[illegible]هان دَ تصور کښې ئې تفسیر دَ ژوندکې دے
[illegible]ات ئې سراپا وینه تو قسیر دَ ژوندکې دے
په [illegible]م و فراست کښې ئې تدبیر دَ ژوندکې دے
[illegible]ظام په محکمې دَ ښهٔ سیرت سره سنګین شي
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا کړه دِ یقین شي

په [illegible] دَ مینوش کښې که دا طوق ئې دَ خدمت دے
[illegible] دَ والي صاحب نښان دَ محبت دے
[illegible] وجه لازم هما ئې توَل عمر صفت دے
[illegible]ک چه چا حلال کړهٔ نو دا عین شرافت دے
کمال دَ حُسن هم دے داکه کوړے چه نمکین شي
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا کړه دِ یقین شي

شیر محمد مینوَش تورلاندی، صوابی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلے احمدجان صاحب نشتر علیګرامی سواتی

## طرح ۱

یو زه یوازے نه یمه په دے بانډ خوشحاله

---

دلشاد ګرځی آزاد شه هر نفر چه د جنجاله

یو زه یوازے نه یمه په دے بانډ خوشحاله

خوشحاله هتول وطن د رب په دے کرم عظیم دے

په دور د جهانزیب کښی چه مونږ ځو شو تیر لوے د سیاله

شکر بیا پرے شکر چه یمه سته له دے ذات شه

معراج د ترقئ ځمونږ نصیب د ذوالجلاله

پښتو نه را شه ګوره ستا وطن څرنګ جنت دے

و اوره درته وائي د هر ګل زبان د حاله



معراج د ترقئ چه د دے ذات په مخ کے بیاموند

ګرځی هر نفر لګه سور ما ځمونږ د خیاله

عزت دے که عظمت که د دولت دے جهانزیب

راحت و مسرت دے وصول تا که ګړه د اقباله

او ر د خوګ وطن ته که غوګ کیږدے خنګه وائي

آګر شه په دولت د خیل وطن د لایزاله

په در کښی د خالق به د نشتر وی دعا داتل

آشنا کړه مونږ د خوګ وطن د ننګ د لوی کماله

---

## طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښی په خندا کینا سته جمع

---

الو ته نیمه شپه کښی جهانزیب بله کړه شمع

طوطیان په ګلستان کښی په خندا کینا سته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُو چت یې کړه خوک راک پسې شروع شو نو بتو نه
مائل شوه دَ هر مُلک دَ هر وطن نه و ته سمع
زاغان که څا پیرکې وو روان کل شو نا مراد
دنړا دَ جهان زیب کړه له دې وا ړو قلع قمع
خوک وطن څمونږ به دَ جنت نه یو حساب شي
دَ در دَ لایزال نه دَ نشتر شوه داسې طمع

---

## طرح ۳

هر سړی مونږ لوی برخه ستا دَ لاسه دَه

---

فِضا دَ کرم ستا چه نن پسې څمونږ لپاسه ده
هر سړی مونږ لوی برخه ستا دَ لاسه ده
سیرت دَ فرشتو نه فیض دَ نن نه م آقا ځنې
حَسین چهره دَ درکړې لایزال عجب دَ ناسره ده



سوات دَ کګو کړ خو دَ قسمت چه دِ اصلاح کړې
سر کنډه مونږه توله ته زیبا له بنځ جواسره ده
وطن دَ پښتنو چه په رشتیا سره جنت کړه تا
دَ حال ژبه گویا دَ هر چمن پرې دَ احسان دَه
شا دَ پښتنو دَ وطن زیبه ! جهان زیبه
ادم حبا دِ په کو دار دَ چپور اسره ده
طوطیان له دې چمن به دِ تل ستا یې په نغمو سره
منحوس زباد زاغ ده چه محروم له دې سپاسه ده
نه پښتون در ته قائل چه په احسان نه شي
به کامیاب نه شي تا بت څمونږ دَ قیاسه ده
اے څمونږ سلطانه مبارک بیا مبارک دِ شه
دنیا دَ نشتر داد ده چه سر کنډه له قطاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح ۲

درروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

---

پښتون به خوار شی څنګه چه بادشاه یې دا آمین شی

درروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

نه یم ریاکار ځکه چه نه خوښ م ریاکار شی

ځای د ریاکار به په آخر کښی تحت ترین شی

کیده لی قدم ستا د سوات په سرزمین کښی ته

څوره کائینات چه خوک وطن ستا آئین شی

دے دم قدم د عالیجاه بلند شو ستاسو

زیات به له دے حاله استقبال ستاسو رنګین شی

آباد لرے خاونده حکمران ستاسو د سوات

په سوال دِ د نشتر له فرشتو نه هم آمین شی

---

احمد جان نشتر سکنه علیګرامه سوات



## شاغلے مولوی ضیاء الحق صاحب

## علیګرامه سوات

---

## طرح ۱

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

---

یونیتل حکمران اوسے اے شاه بلند اقباله

مشوک دِ هر منډ کړه له خپل جود او له نواله

نول ستا دعائی کړی که څوک لوی دے که خورد ساله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

جوړے چه ځای ستاسو د پاره مدرسے کړے

خو له د هر سړی دِ د علمونو هم سے کړے

معمور دِ کړه کل واړه د هنر او د کماله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهغه افغانان دی چه پیشېږي شه شدت و
له روره اوله عزیزه ښه بغض وعداوت و

بل کار به له دوی نه وه ښه له جنګ اوله جداله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

اوس ناست دی په آرام ښه کوی عیش وعشرت
پیدا ېږي له بل سره دې انس او محبت

تول ستا شکر کنار دې خلاص د ظلم د جنجاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

جاری په هر مقام باندې ستا بحر د کرم دے
ستا په اهتمام ښه تول سوات باغ ارم دے

پاک رب د معمر په عمر نوح کړه نیک خصاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

پو نه تل حکمران او ستا شاه بلند اقباله



چه په قدرت د رب موجود زمکه آسمان وی
سوات په سرزمین کښې جهانزیب د حکمران وی

دا سوال څمونږ قبول کړې په خپل فضل ذوالجلاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

پاک رب د معمر په عمر نوح که نیک خصاله

ضیاء الحق دے ستا غلام حلقه بگوش
مه کړې له خپل لطف وکرم نه فراموش

د دا سې خاکسارانو پرورش کوه دعاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

هر څوک د هر مند کړه له خپل جود اوله نواله

مولوی ضیاء الحق، علیگرامه - سوات

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بناغلے جناب سلطان محمد رضا منکوری

### طرح نمبر ۱

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

دا لوئی رحمت د رب دے په جهان دی بے مثاله

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

دنیا کښی د هر قوم د انتظام نشته امیر

هیڅ امن ممکن نه دے بے امیره په جهان

دا شاذ بلکه عدم دی چه آمین وی د جهان

رحمت خوئ فرشته خو نه والی دے بے مثاله

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

بے لو تربے دیا تل د خپل قوم کوی خد

PUKHTO.NET



شب و روز غمخوار د قوم د ترقئ دے په محنت

راضی دے ترینه ځکه رب په دغه نیک خصلت

جلال کمال یے ځکه دے د رب نه بے مثاله

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

نن خو نن د سوات دے جهان زیب په زړه سلیم

د هر نیک کار دے بلاریب په زړه حلیم

قبول د عام الناس دے شرافت لوی عمیم

صد آفرین پاچا شه دے اولی ستا په افعاله

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

روښانه شه تاریخ هم د ګل سوات ستا په دوران

قائل ستا د انصاف ځکه هر څوک دے د جهان

د اصل مجاهد دے د خپل مذهب دے کړه روښان

قائل لقب د سوات اصدرِ اعظم دے بے مثاله

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سوات یو ګلستان دے ته هم ګل او هم شمس
دادرس د هر مظلوم یې ته سایه د هر شی
ته ستوړے د رحمت یې ته رهبر د هر بشر
د ټول قوم پشت و پناه یې کشتیبان یې بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په د باندې خوشحاله

دراصل ته د خدائ یې پرستار ډیر په خلو[illegible]
ستا نیک عمل د هر مومن په زړه جوړ شوے مو[illegible]
د هر مفسد د زړه نه حسد دو رشه ستا په چو[illegible]
نن سوات دارالامان شه په آرام دے بے مثاله

دعاو رب ته مدام کومه زه مرزا سلطان
آمان دے د زوال کړی رب د عدل دا میزان
قایم دے په جهان وی د اقبال ستوړے روښان
فصیح ملیح بش حموښ والی دے بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په د باندې خوشحاله

PUKHTO.NET



## طرح ۳

لوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناستی جمع

---

۱ باره د سهر دے یو نسیم د نو بهار
لوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناستی جمع

۱ باره د سهر دے پنځم کال حموښ د عیش
[illegible]ان بوره د رحمت دے دا تاریخ حموښه بیش
[illegible]شنده کواکب دے دا اقبال حموښه خو نیش
دا ستوړے د رحمت دے جهان زیب د هر دیار
زړه پر سوات بونیر دے کل جهان دے په طمع

[illegible]دل دے جهان زیب رب په سادل باندې کړی فضل
[illegible]اره د ظلم لاړه نن په سوات شروع دے فجر
[illegible]شب روز غمخور د قوم دے تل ظالم ته کوی قهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ امن فرشته ده دَ رحمت دَ رب غفار
دا سوات دارالامان دے په رښتيا شوه بے غمه
دَ قوم دَ ملک دَ پاره شب و روز کوي محنت
هم خوب او هم خوراک يې دے دَ قوم په محبت
عاشق دا جهان زيبا دے معشوقه خيل رعيت
دراصل مجاهد دے، ردبدعت، شوه سمه لار
دُعاء دَ عام و خاص ورته جاري ده هر دمه
مليح دے هم فصيح دے جهان زيبا دَ هر بشر
ناسخ دَ هر قبيح دے دل صفا دے په عنصر
روښان يې دے کل جهان دے معطر دے منور
اَلنّقشُ فِي الحجرِ يې په دنيا جوړ شه يادګار
مقبول دَ عام و خاص دے مشهور دَ ټول عجمه
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناستے جمعه



سوال ته په درګاه دَ رب غفار کړه اے سلطان
کل مخلوق دے هم رڼا زيب دَ جهان
ترقي عروج دَ سوات دے دَ آسمان
دَ عدالت ربه جاري لوے په جار
روښانه يې کل سوات دے زړه خالي لري دَ غمه
طوطيانے په ګلستان کښې په خندا کيناستے جمع

---

طرح نمبر ۳

هر سحري موندلے لو يې په رخ ستا دَ لاسه

---

دَ صبا يې شوے چه رڼا دي عام خاصه
هر سحري موندلے موندلے لو يې په رخ ستا لاسه

رحمت يې ته تا فيض رسي هر ځاى ورته
رحمت يې چه جاري شوے هر ځاى ورته

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیب دَ کل جهان شوے دَ زیرو نه بالاؤ ته
ابر دَ جهارے غنچه رنمکه ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ته باد نسیم یے چه مدام بهار دَ گلو یے
خه بنه منقسم یے چه مدام سهار دَ گلو یے
خه بنه منتظم یے چه مدام معمار دَ دَ لوے
هر پښتون شرف رتبه مونده ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ته خوشبویه گل یے زیب دَ باغ او دَ جهان یے ته
ته زیب دَ دربل یے سیال دِ نیشته عالیشان یے ته
ته قدر شناس یے قدرمنده قدردان یے ته
تل عفوه سزا په مظلومانو ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET



تل ته مساوات دَ هر مسلم کړوے دَ ځان سره
نشته عدالت کښی تفاوت زیرو بالا سره
ځکه رب نظر دَ رحمت کوی له تا سره
ته مشعل دَ سوائے رنړائی پرے ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

بادشاه دسمبر دے داپنځمه سالگره دَ ستا
هر سړے مسرور دے! استقلال دَ دَ خپل ملک دَ جا
بخت دِ بار آور شه! جهانزیبه! شه تا بنده ماه
تل کوی دعاء سلطان محمد چه ئے دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## طرح ۱۲

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل زیب ستا دَ جهان دے، جهان زیب که دِ یقین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

اے سواته، ته صدف یې دُرِ شهوار ستا جهان زیب دے
محفوظ دا امانت ساته دَ رب نه ستا دا زیب دے
تل خیال یې تو کمال ساته زوال یې ستا هر عیب دے
کمال یې ستا کمال دے دا کلام که دِ یقین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

اے سواته، ته تاراج وې تل دَ غیرو وے آماج
بے سره سرپرست تباه برباد لکه دُ حاج
صد شکر دے مالِک شوے دَ خپل قوم دَ ملک دَ راج
سامان هم دَ عروج کمال به ستا جوړ بالیقین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

ستا ورانه شیرازه وه، مکمله شوه هښیار شه



معمار دَ خپل قوم پیژنه ځان ویخ کړه بښه بیدار شه
تعلیم صحت، تنظیم شه ستا نصیب شکر گذار شه
دالوی غمخوار همدرد ستا دا والي دے که یقین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

حفاظان بچاو دَ خپل عزت دولت که دِ مطلب وي
همدرد شه دَ سردار زیب دَ جهان که دِ مطلب وي
دیوه دَ خپل قسمت ده، ډیر احتیاط که دِ مطلب وي
ځان نوی په سود وزیان کړه په ایمان که دِ یقین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

گمنام وے ته اے سواته تل دَ غیرو وے غلام
ظلمونه، بدعتونه، وران رسمونه ټول دَ قام
مالک دَ شریعت دَ سیاست شوے نیکنام
مشکور به دَ احسان دَ خپل والي شي که یقین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا ستا تماشګیره ده ستا د عقل په نظام
تل هوښ عقل سلیم سا ته د خپل ملک په دوام
هلال انګشت نما شوې د عروج په هر یو بام
تل زیب ستا د جهان دې جهان زیبا که د یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که د یقین شي

ماهر د سیاست دې جوړ رستم د زمانې
قائد حقوق د سوات دې یو یادګار د زمانې
قاسم فاتح د سوات دې د بدعت د زمانې
ژوندې نوم آبدي شه، زیب د سوات که د یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که د یقین شي

در اصل خیر الناس دې داستار حقوق د قوم
رحمت دې د الله حقوق د پاره د قول قوم
بشر د رب په فضل دے غیبي رحمت د قوم

PUKHTO.NET



ماهر د سیاست عقل سلیم که د یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که د یقین شي

در شب و روز کوشش جاري دے ستا د ترقۍ
نه خرچه ستا او لاده جوړ بنیاد د کامیابۍ
د ټولو نه وروستې وې اوس شوې وړاندې په سیالۍ
اے سواته خوش قسمته په خپل دین که د یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که د یقین شي

مرزا سلطان به تل د رب په درګوي دا سوال
عزت ژوندون مدام ورکړې د خضر په مثال
دائم دې د قسمت د سوات ساتي تل د زوال
تل زیب دې د جهان په جهان زیب که د یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که د یقین شي

---

سلطان محمد، منګوره، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلے شیر صاحب چندخوړه سوات

## طرح ۲

## دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

تیاره کښې رڼا هله وی ښکاره چه عارفین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

تیاره نوره تیاره وه چه لا نه وه حکومت
نه علم نه ادب وه نه چا پیژند شرافت
هر څوک وو بے خبره د هنر او د حکمت
نه دول وه د خلقو او نه دا زیب و زینت
همت اوکړو مالیار نوم رائے بوتے هله شین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی



همت د جهان زیب چه کړه د عدل ډیوه بله
پښتنه د خیل قام نه یې د هر تکلیف کوله
فائده د رعیت به یې هر وخت لټوله
مدام میوه د رحم یې په هر مقام کوله
اوس وائي ټول قومونه چه په شاه د آفرین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

اوس وائي ټول په شوق چه د شاه یو وفادار
قائم دې وی تل دا سلطنت په ورد دې کار
دا ښکلے وطن باغ شه په دے باغ تازه بهار
رشتینے وائي شیر خادم لفظونه د اشعار
راځي دې د هر ملک نه څوک سیل ته شا یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

شیر، چندا خوړه، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلې خور مهر النسآء صاحبه بانو

# کوکارئ، سوات

طرح ۳

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ دره ده
منع دِ عطاء نه دَ کهتر، نه له مهتره ده
بل چینه جارِی دَ عنایت دِ له دفتره ده
هغه توے فائز چه اراده یے له اخلاصه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

بلبل کوی نغمے په باغ کښې توجے په نخرو
قدم اخلی دَ نازه په رو رو راځی خارو



شرشور کوی طوطیان دَ دے وطن په سیندو
داستا ښکلے دوران ښه زمانه خه په هر شله
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

قومه خوشحالیږه چه نن بارهٔ د سمبر دے
والی صاحب په دے ورځے اینبود تاج پسے
ده ورځ دَ خوشحالئ ځکه په هر سړی اختر دے
خوشحاله نن عالم دَ خوشحالئ ډیرے قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ستا ښکلے دوران دَ ډیرے مزے دَ غریبانو دی
خاندی خوشحالیږی خوشحالئ په مظلومانو دی
سخت وِرځے نن دَ ریاست په ظالمانو دی
رب دِ اجر درکړی داد عام خاص الخاص ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

تا دَ علم جال په وطن خور کړه فیض رسانه
هر یو کارِ خیر کړے ته خپل قوم له مهربانه

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ فیضِ عام نہ رعیت شہ تول شادانہ
حکہ دِ رتبہ پہ بادشاهانو کښې پیاسره ده
هر سړی موندے تو یہ برخہ ستا دَ لاسہ ده

حق چہ ستا دَ شکر نہ منی هغہ انسان نہ دے
نہ محسن هغہ دے چہ قایل دِ دَ احسان نہ دے
رب چرے ملگرے دَ ناشکره مسلمان نہ دے

ستا ده دُعاگو حکہ بانو چہ حق شناسہ ده
هر سړی موندے تو یہ برخہ ستا دَ لاسہ ده

---

## مهر النساء بانو ، کوکارئ، سوات



## ښاغلے پیر محمد خان صاحب، داکی، سوات

---

### طرح ۱

زه یوازے نہ یم پہ دے باندِ خوشحاله

خیر یوازے ما دَ پاره نہ دے خود عام دے
هر سړے رضا دے حکہ خلاص شو دَ جنجاله
زه یوازے نہ یم پہ دے باندِ خوشحاله

نشتہ دے خفہ ده نہ هیڅوک دَ سوات پہ ملک کښې
نور ملکونہ وائی چہ شو لاندِ ستا دَ جاله

رعیت بہ دِ خود فخر کوی چہ ستا غوندِ ئے شاهِ
هر سړے دِ لاندِ دے پوره پوره دَ خیاله

دا ستا دَ توفیق سوال چہ کوی پہ خامینو دَ تول
بل تا غوندِ څوک نشتہ چہ دشمن کوی بے مجاله

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سوات که حیوانات که جمادات دي ټول نارې وهي
عادل یې ته عادل اے والي شاه باکماله
پوره به وصف نه کړي که شروع پیر محمد خان شي
که تیر به ځي وینا کاندې اتلس نولس کاله

---

## طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې دَ خوشۍ کړي خندېده
دَ یو شاخ نه کړي بل شاخ ته دَ نازه جهېده
تیاره دَ خیره لاړه زاغان ګړه رمېده
دَ ده دَ مخه تښتي دښمنان تویه وي دمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

تیاره دَ ملکه لاړه په وطن آباداني ده
وېښتیږي دي دوستانو دَ آرام زندګاني ده



چه بغض لوی زړه کښې دېره یې زیاته ناداني ده
قربان چه لټا سر کړي ورسره ئې دَ عقل قمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

وطن دِ دَ ختن ځنې دوچند جوړ که نقاد
خوشحاله به وي هغه چه کړي تېر ساعت په یاد
نه جهل شته نه مکر نه فریب شته نه فساد
دا رحم دَے چه بله شوله ستا دَ حسن شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

په ورځ دَ تاجپوشۍ خلق یو بل ته مبشیر شو
دَ ځمکې زیر ګنجونه دَ زمین سره ته ظاهر شو
دَ چالاس کښې چه خاک وو هغه واړه جواهر شو
ته یې سنګ فارس خلق به زر کړي لري طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

په فضل دَ الله دِ هره چاره منتخب شه
بالا دِ په شاهانو کښې اے شاه لوی منصب شه

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دے صاحب وطن واړه په مثل د جنت دے
خوشحاله ترے هر وخت تمام واړه رعیت دے
دعا ورته کوو نن ده هر یو کار دے سنګین شی
دعا ورته کوو نن ده دا دعا دِ رب قبوله کړی
خلاص دِ ے په دین دنیا کښ پاک الله د نوله کړی
نیکه دِ ے غوث الزمان دے په دعا دِ ے رنګین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِیقین شی
نیکه دِ ے غوث الزمان دے په سیدو شریف مزار لری
تختی ترے دشمن شاه جهانزیب لاس کښ تلوار لری
شی دِ مبارک هم مبارک دِ همنشین شی
شی دِ مبارک مبارکی مونږ له پکار ده
وی پیر محمد خان د داګی پاکه راته لار ده
دا دوړ دِ قایم وی هم قایم دِ ے آمین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِیقین شی

---

پیر محمد خان داګی، سوات



## بناغلے محمد نوشیروان صاحب شاه ډیری
### ریاست سوات

---

### طرح ۱
### یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---

یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
خوشحاله هر انسان دے خبر که د احواله
خوشحاله هر انسان د خوشحالی کړی کور په کور
بورا په سرو غنچو د باغچو ګرځی لور په لور
بلبل د ډیره جوش ځان له جوړ که تنګ تکور
بادشاه چه عادل راغی خلاص شه د جنجاله
یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
بادشاه د عدل راغی هر ځای جوړ شه انصاف

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حق په ستر که او کوره پکښې نشته خلاف
بیزه شرع او به سکې تل به یو کو درکښې صاف
قلم زه شه ناچاره ستا د وصف د کماله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله
قلم زه شه ناچاره ستا د وصف نه سلطانه
عادل یې رحمدل یې په غریبو مهربانه
د شتینې ظل الله یې اے حمو نږه حکم انه
بادشاه د هر وطن شې سوال کوم د ذوالجلاله
یو زه یوازې نه یمه په دے باندې خوشحاله
بادشاه د روئ زمین شې دعا کوم شام و سحر
تاریخ د تاجپوشئ دې په باره دسمبر
داورځ د خوشحالئ ده پو نږ باندې لوی اختر
مزا نوشیروان څکه په جوش کرځې د خیاله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله
خوشحاله هر انسان دے ځان خبر که د احواله



## طرح ۲۷

## طوطیان په کلستان کښې په خندا کینا سته جمع

طوطیان په کلستان کښې په خندا کینا سته جمع
شکر دے الله چه د زاغانو لړشو طمع
شکر د الله دے چه زاغان شو تار په تار
بیل چه شه په سوات کښې د مظلومو مددګار
فضل پو نږ و شه د خالق غنی غفار
د ظلم تیاره لاړه چه روښانه را غله شمع
طوطیان په کلستان کښې په خندا کینا سته جمع
تیاره د ظلم لاړه د نړائې شو په جهان
مولی دې تل پس لری حمو نږ دا حکم ان
د سوات ز مکه یې جوړه کړه خائسته جنت نشان
د حق په غوګو وا وره دا څماندا په سمع
طوطیان په کلستان کښې په خندا کینا سته جمع .

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حق په نظر اُوګوره دَ سوات په سرزمین
ځائے بځائے بنګلے خائسته باغچے په ښه آئین
سوال مِ په درګاه کښې دَے دَ رب العٰلمین
خاونده لا یزاله دَ دشمن ئے اُو باسے قمعَ
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناستےجمعَ
خاونده لا یزاله دشمنان ئے کړے تاراج
ترڅو چه وی ژوندے پس دَ ده لوے دا تاج
هرزا نوشیروان په محبت لګه دَ رَواج
دَ خولے نه ئے دَ جوش نور رَه اُوختله لمعَ
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناستے جمعَ

طرح ۳۱

هر سړی مُوندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
شک پکښې هیڅ نشته دا خبره بے وسواسه ده



شک په دے کښې نشته ځما داوره قیل و قال
ظلم ستم زور وه هر سړے وه په جنجال
چه ته دَ سوات زمکه چه ته داسے ځه ول ځال
لاندِ په تهذیب چه وه دَ هر ځا اُوس لیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده
چه ته وه تهذیب سراسر جوړ وه جهالت
دَ خان ملک دَ لاسه داوطن وه په زحمت
فضل دَ رب و شه ستا پوړ راغے حکومت
اُوس که فکر اُوشی نظاره دَ کوزو پاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده
اُوس که فکر اُوشی نظارے دی نور پلور
لاړ ځے موټرے درو ځا هر سړے ځي پکښې سور
سرکونه مزین شو آبادی شوه کور پکور
زه به دَ قلم تیره کړے دَ الماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه د قلم تېره کړے په هنر
تاریخ ئې چه وکاته وه باره دسمبر
هر سړے خوشحاله کړي جوړ دے پړے اختر
مرزا نوشیروانه خوله دې ډکه د سپاسه ده
هر سړي مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

---

طرح ۲

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي

---

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي
آواز د صداقت چه وي د هر چا پکے آمین شي
دروغ نه دي رښتیا د ماضي او ګوره حالات
پوره به در معلوم شي حقیقت او واقعات
د عدل زمانه د خوشحالۍ ده نن په سوات
امن دے امان دے خبردار دې سامعین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي



امن دے آمان دے هر سړے دے په آرام
سوات شه په مثال یوه ټوټه دار السلام
غازي ملت چه ښه خدمت اوکړو د قام
په خپله به قائل شے که دې زړه کښ یاد آئین شي
په خپله به قائل شے چه خبر شے په احوال
چه تر په دنیا کښې به دې پیدا نه شي مثال
دائم دې وي قایم دې وي داستور دے د اقبال
قبوله که دعاګانې په درګاه د رب متین شي
قبوله که دعاګانې په در د پاک اکبر
مبارک دې تاجپوشي وي نن په باره دسمبر
مرزا نوشیروانه ستا پوره نه شه دفتر
که لاندې د نظم نه دې تاریخ د سنین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي

---

مرزا نوشیروان شاه ډیري، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلے شیر افضل صاحب افضل

## سید و شریف، سوات

---

## طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

---

چه بله ورته شوه د جهان زیب رخسار شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

ګلونو هر طرف ته په بوستان کښې اوکړو زیب
ځای په ځای انصاف دے چه ته نشته دے فریب
هر ځائ امن آمان دے په اقبال د جهان زیب
شمشاد ئے سلامئ لوه راځي د باغ رمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

طوطیان ئے سلامئ لوه راځي د سر درونه

PUKHTO.NET



پاتے به حیران شی که خبر شوے د قصو نه
تیاره د جهل وړے ده د سوات د کنارونه
هر ځائ خوشحالي ده سالګره د دې نن شپے مه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

هر ځای خوشحالي ده ګل د ګل سره سیالي کړي
سواتیان بے غمه ګرځي ټول خوشحاله خوشحالي کړي
خو دے تمامت چه حفاظت ئے دا مالي کړي
عوام ئے پرې ځنه د څوک د لطف ذکر مه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

عوام ئے د دره څوک تلے نه دے
راغلے چه په خیال کښې څوک د ده دے
شک و ریکښې نشته د حمد لله ښه پوره دے
افضل وائي سرمان م د قربان د دے صنمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح ۳۱

### هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

ګُنج نه یم په غوږو ما اوریدلي د عام خاصه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

کنج نه یم په غوږو د هر کس مې اوریدلي دي
دروغ یمه په سترګو کارنامې مې ستا کتلي دي
سوات شو لوګلزار چه ظالمان ترې ویستلي دي
داسې ظالمان په مخکښې ستا د خپو خړلي دي
اے د عدل ستوریه ما ویستلے دا د قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

اے د عدل ستوریه ستا پښتانه حکمران
چرته به پیدا نه شي که چاڼه کړي ټوک جهان
سخا کښې ستا پښتانه به پیدا نه شي داسې ځوان



تاجداره ناموره رب دې تل لره شادان
درجه دې رب سوا کړه دا دُعا مې د والناسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

درجه به څه د یار دې کړه بلنده پاک سبحان
مالیار دې هم الله لره د سوات به دے بوستان
ډیر به وي کم عقله چه به تا نه وي خفګان
حق تا به حقدارو تقسیم کړے په خه شان
هره فیصله ستا د یوے پلے لپاسره ده

د حق دې فیصلے دي پرے قائل غیر ملکونه دي
حکمه اے سلطانه هر ځائ ستا صفتونه دي
بنګلے دې نظام دے ځای په ځای ښنه چمن ونه دي
لاړه تیاره کړي بل په هر ځای مشالونه دي
افضل وائي عُمر دې ډیر شه دا رڼا ستا د اخلاصه ده

شیر افضل، سید و شریف، سوات

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلے خانے صاحب منګوره سوات

## طرح نمبر ۱

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله
هر انسان چه وینم کوګ ګړ ځي له خیاله

سَوړه سمبالیګي، قد دَ صنوبر وینه
راشه تماشے له، ته دَ قام رهبر وینه
دا زیب دَ جهان دے، ځکه دے دَ کماله
یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

دا رحم چه اوشه، پوګه په سحر کښې
ګل شه دا ګلاب، په باره د سمبر کښې



دے چه خدای بادشاه که، شم زاره دغه کاله
یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

دے چه خدای بادشاه که په باره د سمبر
لرے ده یو دم که دَ عدل قام ته وَرْ
موسم دَ پسرلی شه، شو خلاص دَ پشکاله
یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

خاوره یو شه زرسوه، کانړی یو لعلونه شو
جوهر ترے قسما قِسم راشه وینه لعلونه شو
خانے حکمران دِ وی دا بلند اقباله
یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

## طرح نمبر ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا ستهٔ جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع
ملک ټول بهار بهار شه، شوه بل د عدل شمع

چې کوم وخت په چمن کښې د طوطیانو شه چغار
سړي ځان له جوړ که عجیب ښکلے سنګار
د عدل خوشبوئي شوه بلبلان راغله په طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

روانه خوشبوئي د عدل شوه د ښهر یار
په بارګه د سر کښې تاج یې چه که تاجدار
غګ د اختر اولګید د هر سړي په سمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

هر سړے خوشحاله شه چې شه دریم اختر
شروع عدل انصاف شه لړ شه د عدل ور
ډېره خوشحالي شوه د هر ځاے وچه شوه دمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع



دا عدل انصاف نشته نن په زمانه
لوی واړه ځوانان شو په عقل پیمانه
اے خانے قصابه هر څوک پوه شو په لمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

---

## طرح ۳

هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
جهنډه د ترقئ ځوانانو په ټولو جهان د پاسه ده

ستا په همتونو سره لوړ ځوانانو وطن شه
د سیالو سره سیال شه، ښکلے هر ګلشن شه
دا مهربانئ د هم د عدل د لباسه ده
هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ رنګ ترقئ وړکوي قام له مُلک ز‌ېبا شه
په باره د سمبر کښې د هر ځا حق ادا شه
راغلې دا نقشه هم د سېنې یو کم پنځاسم ده
هر سړی مونده لوپه برخه ستا د لاسه ده
دا کار په اتفاق اُو شه، ستا په نیک خصلت
تل به ته کامران یې، چه وي دې دا صِفت
دا معلومه شوه مونږ ته هغه وخت د قیاده ده
هر سړی مونده لوپه برخه ستا د لاسه ده
ای خانی قصابه، ستا چه خوږه ده نو ان وی
صِفت به دې په خوله کښې د خپل عادل سلطان وِی
وتلې دا تهګره یو د سختی او د افلاسه ده
هر سړي مونده لوپه برخه ستا د لاسه ده

---

طرح ۱۲

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شِی



دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی
چه دا عدل انصاف وی جهان به یو رهین شی
ښه شا بار وطن وه جوړ د ظلم یو سنګار وه
یو دم یې صفا که چه عادل یې شهریار وه
لیدی د عزتونو سنګارن به هرځین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی
خپل حمونږه مُلک دی، خپل یې حکمران لرو
ټول شکر ګذار یو چه داسې رنګ سلطان لرو
هغه مُلک به لوړ شی چه سردار یې خپل ملکین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی
د ده په برکت حمونږه لاړه شوه جهالت
په باره د سمبر وطن ته راغې ډېر راحت
دا وَی خانی قصاب چه لوی واړه به یو حسین شی

---

خانی قصاب - منګوره، سوات

PUKHTO.NET

# ښاغلي دِلاور خان صاحب ډاکي

## ریاست سوات

---

### طرح ۱

یو زړه یوازې نه یمه په دې باندِ خوشحاله

---

یو زړه یوازې نه یمه په دې باندِ خوشحاله
خوشحال رعیتیان دَ سوات په عدل دَ حضور دي

یو زړه یوازې نه یم په انصاف دَ صاحب کرم
مستي نول رعیت کوي دَ هر قسمه چه کوري
پردی مال ته کاته دي دَ هر جا په زړه کښې شرم
غنیان واړه سواتیان شو، لټوِي دَ دولت لوري
انصاف دَ شاهِ سوات اکړه دَ هاکوانو خاطر نرم



اکثر صاحبِ مال شو زکوٰتونه یې خپل ورکړي
مخلوق تعلیم یافته رعیت ټک شه دَ کماله
قایم دِ دا انصاف وي خزانې چه پرې مشکور دي

قائم دِ حکومت وي څو چه وي دنیا آباده
بلاس دِ دَ شاهۍ دَ صاحب دا ز تغیر محکم وِي
بهار دَ حکومت دِ خدای ساتي دَ غم دَ باده
دا دور دَ ګلونو دِ په دې ګلشن هر دم وِي
دبدبه دِ دَ شاه تل وِي دا دبدبه دَ سوات حیا ده
حیا دِ دا څمونږه پس شب و روز هر دم وِي
نِګاه دَ غم بیابانونې دَ سوات شاه دِ هم خیاله
دا زړه یوازې نه یمه په دې باندِ خوشحاله
حکمونه معتمد دِ دَ شاهۍ په هر دستور دي
خوشحال رعیتیان دَ سوات په عدل دَ حضور دي
حکمونه دِ وي ستا حاشې دَ حکم اے سلطانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنی لکه د متن، متن وي چه د معنا نه
مسکن دې ستا ګلشن شي، د ګلشن نه ته شې ځوانه
تر څو چه دا دنیا وي ته محفوظ شې د دنیا نه
کشتن دې ستا تاجدار وي چه تاجدار شي د هر شانه
ایمان دې سلامت شه، سلامت شې د ایمانه
دښمن د رعیت دې همیش ستا وي بې مجاله
ستا تاج دې د دولت سوات رعیتیان په تا معمور دي
رعیت راضي په ګډ دي چه د تا پرې نیک خیالات دي
خیالات دې د نیکۍ همیشه ستا د قوم پسر وي
ظلمونه ستا په نیک فهم د خوار و پسر محط دي
بري د خپل نیکه دې همیشه د تا رهبر وي
حقوق د عدالت ستا دې په هر وطن کښې زیات وي
داغمک دې قاف تر قافه مدام ستا د بر نه بر وي
تر څو چه دلاور غمګین محروم نه وي د قاله
د هغې دا سوالونه تل په در کښې د غفور دي



## طرح ۲۷

## طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

---

معموره پرېنده د سوات په ملک کښې په ثمر دي
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع
معموره هر آشیا د سوات په ملک کښې په خندا دې
محفوظ امن امان یکښې چلېږي د هر قسمه
موسم د بهار د سوات په خدمت مدام پیدا دے
اقبال د شاه د سوات بدخواهان کړه بهر د رسمه
ګل ښه وخت بلبلو ته د نازه په ندا دے
خوف ووت د ګلونو د خزانه د جهان مجسمه
شبنم غوټۍ غوټۍ لباس د ګلو مقرر دې
طوطیان او بوراګان خوشنود په ستاینه جمع
طوطیان او بوراګان په سوات کښې ځکه معتبر دي

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسم په عدالت په سوات کښې هر زمان ګلزار دے
دَ خوف نه خزان خفګان ژمی ګی کور وکړ دِی
حیران څوک نه وطن ته بتول کابل او قندهار دے
موسم پرے معتدل ګرمي یخنی سم برابر دی
آبی دَ سوات ها کلے په نیک فهم دَ سر دار دے
چمن چمن څمونه دَ یورپ ځنے بهتر دِی
مخلوق دَ هر وطن دلته شاد اکینا سته جمع
راځی دَ سوات لیدو له دَ هر قِسم مخلوقات
والی صاحب دَ سوات نام منور که قاف ترقافه
حافِظ دَ سوات ایستلی بد خواهان دِی دَ هر بات
منسوخ ظلم زور شران دَ هر قِسمه اسرافه
رهبر دَ غریبانو دا سلطان دے عالی ذات
ګواه پرے بتول عالم دے چه ځائے کښې دَ انصافه
مشتاق دیر عالم دَ سوات دا شاه عدل ګستر دی
بد خواه دَ شاه دَ سوات ګوشه جدا کینا سته جمع



دا دور دِ مدام وِی په قِسمت دَ حکمران
شاهی چه دَ اول آخیره وی دَ بتول اولاد
ګلشن ګلشن دِ سوات چه راهی وی پرے طوطیان
طوطیان او میلانه پکښې او سیرېږی خاد و بناد
واصِف چه دلاور غمګین پرے بخیل لسان
دا ډول دِ دَ سوات اوی په والی صاحب آباد
ګلونه دولس میاشتے په باغچو کښې معطر دِی
زاغان ترے به ارمان کښې به سود اکینا سته جمع

---

## طرح ۳

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

خوږه سائیلانو اراده چه دَ کوم کار کړے
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږه سائلانو اراده چه د دولت وکړه
ټول هغه ماړه شو پکښ یو پاتې محروم نه شه
واړه فقیرانو افسانه د د شهرت وکړه
پاتې یو سائل به سوات خوار چا ته به نوم نه شه
دا د تقسیم برخې به جمعه کښ حرکت وکړه
هر سائل سخی شه نام هر کړې پاتې د شوم نه شه
ځکه به یورپ اشیا د سوات نالې اظهار کړې
چترې پیس د بادشاهۍ لمن نیا سره ده
دا د شام ثانې به سوات کښ بل چه دویم شام جوړ شه
ځکه دیر عالم پکښ د هر ځای تماشې کوي
دا د سیدو غوث به فخر سرای د اسلام جوړ شه
سوات ځکه د دنیا به هر وطن کښ پلوشې کوي
هر رنګ طالبان پکښ د هر علم انجام جوړ شه
هر رنګ ملنګان پکښ به هر رنګې نشې کوي



هر رنګې غنچې در پکښ هر رنګې بهار کړې
هر رنګې باغچه پکښ د هر ثمر بې قیاسه ده
هر رنګې هنر پکښ د چین او د ختن شته دې
هر رنګ نقاشیان پکښ قابل په امتحان شته دې
هر رنګې فیشن پکښ تیار د هر وطن شته دې
هر رنګ فیشن ساز یعنې تیار به هر مکان شته دې
دا د سوات د شاه د هر بنده شاه ګفتن شته دې
دا یې د هر قسمه ن به سوات کښ قابلان شته دې
دا د سواری د سوات صاحب دار ومدار کړې
ځکه دبدبه د سوات تیره خود د الماس ده
خود به ترقي د غه د سوات نام عجیب کوي
مل چه یې به نیکه خیل تاجور د هره پابه دې
تل د سوات سلطان رائې دوستي د خوار غریب کوي
ده د عدالت خنجر ویستلې د نفا به دې

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم یې پرورش کړی هم یې غور د طبیب کوی
هم دے نیکو کار او نیک کردار د هر حسابه دے

داسے نیکه برخه چه د قوم سره تاجدار کړے
برخه جهانګیری یې رسیدلے د والناسه ده

نامه یې ج او ه الف ن ز ی ب بهتره ده
فکر ورته اوکړه چه عقل ورته خام نه کړے

جیم ه الف یو ځای او د نون بیله خانه غوره ده
ز یوازے کور دے، ی ب یو ځای بد دے فام نه کړے

داجهان خائسته برخه یې نام کښې مقرره ده
نام که د حضور کوره حرفونه بے دوام نه کړے

داد صفت باغ کښې نوکری چه کوم غمخوار کړے
خوښه باغبانی دے دلاور ته چیوراسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---



## طرح ۲۴
## دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شی

---

تعلیم د عدالت عاقله ته اوکړه په ښتوا کښې
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شی

تعلیم که د انصاف کوے اول پرے امتحان کړه
داخل چه شی اول په ښتوا کښې نوم یې لنډ اکے دے
محصول د ښتوا دحد دے نسه آګاه ته خیل ځان کړه
تپوس د میلمنو د محصول دوی ته کار سپکے دے
په ورځے یبخه حکمه پرے د عدل شاهجهان کړه
اخلاق د بد فعلی په خوله کښې خوند تریخ شمکے دے

اخته که ځان حد کښې مسافر شه په بنجات کښې
برباد یو ځوند حیا وی په حیا که دیقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



درون چه میلمانه شي په مزه د سوات بهار ته
مالیان د حفاظت د پاره وي ورته موجود
پولیس حفاظتي دي تقسیم شوي هر دیار ته
جاې د ستړي مشئ میلمنو له ورکړي سود
نوکر کوي منځ د خدمتونو خپل تاجدار ته
صاحب د نوکرانو نه جوړې د حیا بود

خوشحاله میلمانه شي د هر قسم په غم قات کښي
کار ونه ئې بې ریا دي په ریا که دِ یقین شي

روان چه میلمانه شي په مهم کښي د سلام
مطلب ئې په زړه داوي چه یو اوکړې ملاقات
منشیان کړي د صاحب ورته د هر کلي کلام
اے خوانه نوم دِ اووایه چه تیر نه شي اوقات
والاړ وي پټول منشیان دے میلمنو ته لاس پنام
ترڅو چه میلمه نه کړي داخل نوم هغه ته ذبات



منشیان قول شریفان د حکمران دي په خپل ذات کښي
په جي قربان لګیا دي په لګیا که دِ یقین شي

نوم لیک چه مزاکان کړي زر عادل سلطان له ئې ورکړي
صاحب د باچې کار چه نوکر ته زر اوکړي آواز
فلانے میلمه تشریف دِ زر دننه مقرر کړي
میلمه په ملاقات لګه د ګُل کړي تن خیر اواز
حضور د هر کلي قول د خولې ورته هر کړي
مرشد غوندِ رازدار شي لکه پیر چه کړي نوک راز

احوال ورته ښکاره کړه دلاور په دې ابیات کښي
ښه واوره داوینا په دې وینا که دِ یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي رښتیا که دِ یقین شي

---

## دلاور غمګین ډاګي سوات

# د ناظرینو په خدمت کښی

خاص عوامو ته او بیا خاصکر تعلیم یافته
او ادبی طبقے ته دا ښه معلومه ده چه څومره
په ریاست کښی ترد ے حینه پورے دا سے
یو ادبی شاهکار او د ترقی او د عروج
په حقله دا سے یو مشاعره نه وه شوے
دا اوله مرحله ده چه هر کله حضور
غازئ ملت والا همت فرمانروای
سوات دام اقباله د ترقی په بام باند
کما ینبغی د سوات ریاست یو زلید و نکے
ښه او کړزوله، نو د ادیبانو، شاعرانو



په زړه کښی د خپل محبوب حکمران د محبت
جذبه را غله، او د دے خپل نیک محسن
د تحسین نه چپ نه شو پاتے کیدے نو لهذا
څمونږ د ریاست ښاغلی محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدیقی
(تحصیلدار دفتر حضور دام اقباله)
د ریاست سوات او غیره ادیبانو صاحبانو ته
د مشاعرے پیغام ورکړه نو ښاغلو ښاغلو
شاعرانو خپل خپل کلام د پاره د شایع کولو
صدیقی صاحب ته را اولیګه، اګر چه د بعضو شاعرانو
شعر و نه د قافیو او د ردیف په لحاظ او د بحر په
توازن سره سمے نه خوری لیکن بیا هم صدیقی صاحب د
هغوی د جذباتو قدر کوی او همت د ناظرینو کښی پیش کوی

تاسو درد

فضل الرحمن فیضان عفی عنه محرر جناب مشیر ملک صاحب سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ عقیدت ګلونه

راشه لږ. اُو ګوره دا دَ عقیدت ګلونه
لکه بورا بویه وه دا دَ صداقت ګلونه

نننۍ ورځ دَ تاجپوشۍ چه دَ والی صاحب ده
شو په پیشکش کښې ورته دا دَ حقیقت ګلونه

ښ ادیبانو شاعرانو په اخلاص او خلوص
حضور ته پیش کړه په دې ورځ دَ محبت ګلونه

هر یو شاعر اظهار دَ ډیر خوشحالۍ کړې دے
غازی ملت ته یې ډالۍ کړه دَ عبرت ګلونه

وائی حبیب چه مونږ به نه یو دا یادګار به وی تل
تل به باقی وی دا ځمونږ دَ خدمت ګلونه

ښاغلے جناب. حبیب الرحمن صاحب حبیب ګاروچ

بکتابت فضل الرحمن فیضان سوات عفی عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مظلوم ورته خند پړی او ظالم کوی فریاد
د زړهٔ په وینو تــکی دا زمــا قـلم لیکی



سیف الملوك صدیقی

# زهٔ انتظار کوٌمه ستا د سترګو

زهٔ انتظار کوٌمه ستا د سترګو

سیف الملوك صدیقی



زهٔ انتظار کوٌمه ستا د سترګو
ولې پناه شوې ئهٔ زما د سترګو

چې په ګلونو د دنیا کرم نظر
مثال مې نشته د اشنا د سترګو
که په سلګو یمه یواځې ئهٔ یم
اوښکې بهیږی د هر چا د سترګو
څومره ښائست چې ستا په سترګو کښې وو
نشته نرګس او د لالا د سترګو
هر چا ته ګورمه دنیا لټوٌم
نشته هغه چرته خندا د سترګو

صدیقیؔ خوښ دے په خلوت د دنیا
چرته به پټ شی د دنیا د سترګو

جان کتاب کور
JAN0345K951961KS

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**